# که په تاسو کې یو څوک د خپل لمانځه په اړه شک وکړي او نه پوهیږي چې څو رکعته (لمونځ) یې کړی؛ درې که څلور رکعته، نو شک دې لرې کړي او په هغه څه دې باور وکړي چې یقیني وي، بیا دې له سلام اړولو مخکې دوه سجدې وکړي

له ابو سعید الخدري رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "که په تاسو کې یو څوک د خپل لمانځه په اړه شک وکړي او نه پوهیږي چې څو رکعته (لمونځ) یې کړی؛ درې که څلور رکعته، نو شک دې لرې کړي او په هغه څه دې باور وکړي چې یقیني وي، بیا دې له سلام اړولو مخکې دوه سجدې وکړي، نو که چېرته یې پنځه رکعته کړي وو نو سجدې به یې ورته لمونځ جفت کړي، او که چېرته یې د څلورو د پوره کولو لپاره کړې وي نو د شیطان د رټلو لپاره به وي.

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې که یو لمونځ کوونکی په لمانځه کې شکي شي او نه پوهیږي چې څو رکعته یې کړي دي؛ درې که څلور؟ نو مشکوک عدد دې له ذهن نه وباسي او اعتبار دې نه ورکوي او هغه څه چې په اړه یې یقیني دی هغه درې رکعته دي، نو څلورم رکعت دې وکړي، بیا دې له سلام اړولو مخکې دوه سجدې وکړي. که کړي رکعتونه یې په ریښتیا څلور وي؛ نو له اضافي رکعت سره به پنځه شي او د سهوې لپاره دوه سجدې به یې د بل رکعت په بدل کې شي، نو د رکعتونو شمېر به یې جفت شي نه تاق، او که چېرته یې د اضافي رکعت سره د رکعتونو شمېر څلور و؛ نو خپل لمونځ به یې پوره کړی وي، نه به زیات وي او نه کم. او د سهوې دوه سجدې به د شیطان د رټلو او سپکولو په موخه شوي وي، او د دې لپاره چې هغه ذلیل شي او خپل مراد ته ونه رسیږي؛ ځکه چې لمونځ یې پرې ګډوډ کړی و، او د لمانځه د فاسدېدو لپاره ورته راښکاره شوی و، نو د بني آدم لمونځ الله تعالی ته په سجدې کولو سره پوره شو، هغه سجده چې ابلیس یې په نه کولو سره ګناهکار شوی و، کله یې چې آدم علیه السلام ته په سجدې نه کولو د الله تعالی نافرماني وکړه.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/11231